د 0-18 کلونو ترمنځ موده، په کوم کې چې فزيکي، ذهني اوجنسي وده لا بشپړه شوې نه وي، د ماشومتوب په توګه تعريف کيږي.
د ماشومانو ناوړه چلند پنځه مختلف اړخونه لري: فزيکي، اقتصادي، جنسي اواحساساتو ته پاملرنه نه کول او ناوړه ګټه اخيستل.

**غفلت (بی توجهی)؛** د ماشوم حياتي اړتياوې لکه تغذيه، سرپناه، روغتيا، جامې، ساتنه او څارنه د مسولو خلکو لخوا نه پوره کيدلو حالت دي.

**فزيکي ناوړه ګټه اخيستنه؛** د ماشوم په وړاندې؛ عمدي فزيکي ځواک چې روغتيا، ژوند، پرمختګ يا وقار ته زيان رسولو احتمال ولرى وکارول شي: وهل، سوځول، زورول، چيچل، ټکول، د وسلې کارول، ټک کول، د ناغوښتل شوي ماده پې خوړل، د غولولو هڅه کول، غرقول.

**احساساتي ناوړه ګټه اخيستنه؛** دا هغه حالت دی چې ماشوم له هغه پاملرنې چې محروم شې کوم چې اړتيا ورته لري لکه؛ مينې او پاملرنې او دا په ماشوم کې د رواني ستونزو لامې شي.



**جنسي تيري؛** په جنسي فعاليت کې د ماشوم ښکيلتيا په داسې طريقه چې ماشوم نشي کولى په بشپړه توګه پوه يا رضايت شي او يا هم ماشوم په بشپړې توګه وده نويکړي او چمتو نه وي، يا د ټولنې د قوانينو او ټولنيزو نورمونو سره مخالف وي.

**بې تماسه يا له لرې فاصلى ناوړه ګټه اخيستنه؛** لفظي ټکانونه، نامناسب ټيليفونونه، په پټه نندارە کول، ويبوريزم، ماشوم ته جنسي اړيکو صحنې ښکاره کول، د فحش موادو لپاره د ماشوم کارول.

**ناوړه ګټه اخيستنه د لمس په ګډون؛** لکه د بدن پټو برخې لمس کول، ځورول، جنسي تيري، جبري فحاشۍ، په زوره د بل کس د غړو لمس کول.

**اقتصادي ناوړه ګټه اخيستنه؛** په دندو کې د ارزانه کار په توګه د ماشوم استخدام چې د ماشوم په فزيکي او رواني وده منفي اغيزه کوي او د هغه له عمر او ځواک سره متناسب نه وي.

**د ناوړه ګټه اخيستنې څخه د ماشومانو د ساتنې لارې:**

- ستاسو ماشومان بايد وکولى شي په تاسو باور وکړي او تاسو ته خپلې ستونزې ووايي کله چې ماشوم څه ووايي، غوږ ورته ونيسئ او باور پرې وکړئ.
- ماشومانو ته بايد د عمر مطابق جنسي معلومات ورکړل شي، دوى ته بايد د دوى د شرمګاه په اړه زده کړه ورکړل شي او دا چې دا سيمې د دوى پورې اړه لري او هيڅوک نشي کولى چې دوى ته لاس ورووړي پرته لدې چې دوى وغواړي.
- دوى ته بايد خبرداری ورکړل شي چې د اجنبيانو سره خبرې ونه کړي، ډالۍ ترلاسه کړي، يا هم دهغو په موټرو کې پورته شي.
- کله چې دوى په کور کې يوازې وي، دوى ته بايد وويل شي چې پرديو ته دروازه مه خلاصوی.
- کله چې دوى د خطر احساس کوي، دوى بايد وهڅول شي چې چيغې وکړي، وتښتي او د مرستې غوښتنه وکړي.
- د کور څخه د وتلو په وخت کې بايد معلومات ترلاسه شي چې چيرته او له چا سره ځي.
- د نه ويلو وړتيا بايد زده کړي.

**د ماشوم د تعقيب مرکزونه (چيم)**

د ماشومانو د څارنې مرکزونه (چيم) د دې لپاره رامينځته شوي چې د هغو ماشومانو ثانوي صدمه کمه کړي چې د جنسي تيري قرباني دي.
چيم د روغتون تر چتر لاندې د ماشوم لپاره دوستانه چاپيلايل دی چې د ټولو قضايي او طبي پروسيجرونو مسوليت لري.
په چيم کې، د ماشوم بيان د عدلي مرکه کونکي په شتون کې اخيستل کيږي، او اړين معاينات دلته د ډاکټرانو لخوا ترسره کيږي.



**د یو کس جرم لیدل او چارواکو ته د جرم راپور نه ورکول هم جرم دی او حبس جزا لري (د ترکیې د جزا قانون 278, 279, 280)**

په ماشوم جنسي تیري د ماشوم د لباس یا چلند له امله نشي کیداي.

جنسي تیري په هره ټولنه او د تعلیم په هره کچه کې لیدل کیدی شي.

نجونې او هلکان له جنسي ارخه ځورول کیدی شي.

د عام باور برعکس، ناوړه ګټه اخیستنه اکثرا په هغه چاپیریال او خلکو له طرفه ترسره کیږي کوم چې ماشوم اشنایي ورسره لري.

هر وګړی مکلف دی چې د ناوړه ګټې اخیستنې په وخت کې راپور ورکړي.



د ترکیې د جزا قانون د ماشومانو سره د ناوړه چلند د مجازاتو په اړه احکام لري.

د ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنه په درنو جزاو او بندیزونو محکوم کیږي.

دا خپرونه د اروپایي ټولنې په مالي مرسته جوړه شوې ده.
د دې محتویات یوازې او یوازې د ترکیې د جمهوریت د روغتیا وزارت مسؤلیت دی او د اروپایي اتحادیې نظرونه نه منعکس کوي.

**مناسب ځای، ښه خدمت**

د نورو معلوماتو او ملاتړ لپاره خپل نږدې د مهاجرو روغتیایی مرکز ته ورشئ.

sihhatproject www.sihhatproject.org sıhhat

This project is funded by the European Union.
Bu proje Avrupa Birliği tarafından finanse edilmektedir.
هذا المشروع تم تمويله من قبل الاتحاد الأوروبي



راځئ چې د ماشوم
د غفلت او ناوړه ګټه
**اخیستنې مخه ونیسو**

sıhhat